شهادت
ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان
(٤) صفحه
شمارهٔ مسلسل ۹۹۰ سال هژدهم شماره .(۷۵).یکشنبه (۲) میزان ۱۳۷٤ هـ . ش ۲۹ ربیع الثانی ۱٤۱٦ هـ .ق (۲٤) سپتمبر۱۹۹۵ م
قیمت (۲۰۰) افغانی (۲ روپیه)

توسط گـروه طـالبان

جنرال فاروق یکی ازافراد نزدیک مسعود درشیندند تیرباران شده است

پشاور - اول میزان :
اطلاعات رسیده حکایت ازآن دارد که جنرال فاروق یکي ازاعضاي سابق جنبش که از آغازتشکیل حکومت ائتلافي روابطي نزدیکي بامسعود داشت و باافراد خود بیشتر درخیرخانه واطراف آن بسرمیبرد اخیراً باپنجصد نفر ازافراد معیتي اش درجنگ هاي فراه وشیندند به اسارت طالبان درآمده بود .
برپایهٔ این اخبار، پس ازفتح هرات، جنرال فاروق به معیت چندین نفر ازافسران دیگر درشیندند تیرباران شده اند وبسیار افراد دیگراوتاهنوز دراسارت طالبان بسرمي برند .
طبق گفتهٔ برخي مسافرین تازه وارد طالبان برخي ازاسراي دیگر خودرا نیز بقتل رسانده اند.
لازم بیادآوریست که این خبرها ازطرف کدام منبع مستقل خبري وازجانب خود طالبان تاحال تائید نشده است

ددعوت او جهادپوهنتون دعالي شوراهیئت له وروورحکمتیار سره وکتل

جلال آباد - دتلي ۱ :
ددعوت اوجهادپوهنتون دعالي شورا یو لوړ رتبه هیئت پرون دحزب اسلامي له امیر وروورحکمتیارسره وکتل اودنوموړي پوهنتون دترل کیدو دستونزي په باب ئي وورسره تفصیلي خبري وکړي .
په جلال آباد کي دحزب اسلامي دامارت سکرتریت شهادت ته وویل ددي هیئت په ترکیب کي چي دنوموړي پوهنتون علمي مرستیال قاري محمدنظیف دمحصلینوداموړو مرستیال میرحیات هاشمي ،دوکتور عبدالحکیم «محب» ، پوهاند «فیاض» ،حاجي محمدفرید، استاد محمدیاسر،اومولوي سیدالرحمن شامل ؤ وروورحکمتیارته ئي دپوهنتون دترل کیدو په باب معلومات ورکړل .
منبع وویل چي وروورحکمتیار هم په خپل واردهیئت له غوروشخه وغوښتل چي په اوسنیوشرایطوکي دپوهنتون انتقالول یولوي مشکل دي باید تاسي یؤاعلامیه خپره کړي اویکي ووایي چي داپوهنتون په هیجاپوري ندي ترلي اودابوعلمي مرکزدي اودمهاجرینو داولادونو په خدمت کي دي .
(٤)مخ

ورور" حکمتیار" اوجنرال "دوستم" علاوالدین بروجردی ته وویل :

دخبروونحت تیرشوی ،باید "ربانی " ژرتر ژره اوبی قیدوشرطه استعفی وکړی

جلال آباد : دحزب اسلامی افغانستان امیرورور "حکمتیار" دایران د بهرنیو چارو دوزارت مرستیال ښاغلی علاوالدین " بروجردی " ته په جلال اباد کی دکتنی په ترځ کی وویل چی نور له "کابل اداری "سره دخبروونحت تیرشوی ،بواځی یوه لار پاتی ده اوهغه داچی ربانی ژر تر ژره او بی قیدوشرطه استعفی وکړی ، واك یوی بی طرفه انتقالی اداری ته انتقال کړی او دیوه منتخب زعامت دراتلو په وسیله زموږ دهیوادبحران دتل لپاره حل شی .
له جلال آباد نه دشهادت خبریال رپوټ راکوی چی داخبری وروور" حکمتیار" دبروجردی دهغو څرګندونو په برخه کی وکړی چی حزب اسلامی دی له کابل اداری سره خبری اترې وکړی .
او دامتیازاتو په بدل دی سره موافقه لاسلیک کړی . بروجردی ویلی چی دایران حکومت په دی رابطه منځګړیتوب اومثبت نقش لوبولو ته چمتو دی .
خبریال وویل چی دحزب امیر ټینګاروکړچی له استعفی پرته له ربانی سره دهر راز خبرو وخت تیردی . په همدی وجه باید "ربانی " ژر تر ژره اوله هردول قیدوشرط پرته خپله استعفی اعلان کړی.
له بلی خوا له مزارته یوی مسئولی منبع شهادت ته وویل چی دملی اسلامی غورځنګ مشر جنرال عبدالرشید دوستم هم د علاوالدین بروجردی د پیشنهاد په وړ اندی کت مټ دوروور"حکمتیار" دریځ خپل کړی . دربانی په عاجله استعفی اوبی طرفی اداری تهدواك په سپارلو ټینګار کړی اوله دی پرته یی له کابل اداری سره هر راز خبری بی ګټی ګڼلی دی.

په پیښورکی دکابل سرقونسل جنرال موسی خان له شهادت سره په مرکه کی :

له پاکستان نه ایستل شوی ۱۳دیپلوماتان ټول دجمعیت غړی دی

ما پاکستانیانو ته ثابته کړی چی زه دخپل ملت په خدمت کی یم ، نه دیوه ګروپ

دیونس قانونی - لهجه نامناسبه وه ستونزی هغی زیاتی کړی

زما د پاسپورتونو په بوجیو چادپیسودبوریو ګومان کړی و

اوس استاد "ربانی" داقتدار انتقال ته چمتو دی خوطالبان له جګړی پرته بله خبره نه کوی (٤)مخ

اعضای شورای "اسلامی پاڅون" بابرادرحکمتیارملاقات کرد

جلال آباد - اول میزان :
اعضاي شوراي «اسلامي پاڅون » تحت ریاست پروفیسور فضل الله «فیاض» درقول اردوي ننګرهار بابرادرحکمتیار ملاقات کرد .
خبرنگارشهادت ازجلال آباد گزارش میدهد: این ملاقات که درفضاي دوستانه ساعت ۹ صبح آغازوسه ساعت دوام کرد طرفین روي انکشافات و جریانات فعلي کشوربحث وتبادل نظر تفصیلي نمودند.
درترکیب این شورا فقیرمحمد بابزي، ارباب محمدطاهرخلیل ، الحاج ملك دلاورخان وانجنیرمحمد عمرشینواري شامل بودند.
درگزارش علاوه شده که اعضاي شوراي متذکره راجع به اهداف وکارکردهگي این شورا به برادرحکمتیار معلومات تفصیلي داده که برادرحکمتیارضمن تمجید ازکارکردهگي این شورا راجع به اوضاع کشور وراه حل بحران فعلي اظهار رضایت نموده وملاقات درفضاي دوستانه باوعدهٔ هرگونه همکاري بین طرفین خاتمه یافت .

معاون فرماندهی عمومی سپاه پاسداران ایران :

امنیت موجود در مرزهای شرقی وغربی ایران ، دردوصد سال آخیر بیسابقه است

پشاور - اول میزان :
سیدرحیم صفوي معاون فرماندهي عمومي سپاه پاسداران دریك گردهمایي نیروهاي بسیج تهران گفت دولت هاي سابق باوجود اینکه دعواي قدرت وقوت میکردند ازکنترول مرزهاي شرقي وغربي آن که امتداد ۹هزارکیلومتر را دربرمیگیرد عاجزبودند .
وي گفت جمهوري اسلامي اکنون این مرزهارا کاملاً امنیت نموده وخطر خرابکاري عناصر مخل امنیت رادرآن امتداد ازبین برده است .
روزنامه کیهان درشماره ۲۰ سنبله خود ازقول صفوي نوشته است بسیج یك باور عمومي است ودرمقابل هرگونه تهدیدات خارجي تنها میتوان برنیروهاي بسیج تکیه نمود .

سفیرعربستان سعودی مقیم اسلام آباد

نه تنها دولت عربستان سعودی از جهادافغانستان پشتیبانی نموده بلکه اتباع اش داوطلبانه درجهاد شرکت نموده قربانی داده اند

اسلام آباد - اول میزان :
سفیرعربستان سعودي مقیم اسلام اباد درپیغام روزملي عربستان سعودي گفت : حکومت عربستان سعودي توجه به حل مشکلات دول اسلامي دارد وتوجه بیشتر زمامداران سعودي به ریشه کن نمودن مشکلات روزافزون بوسنیا هرزگوینا ، افغانستان ، اري تریا، صومالیا ولبنان است .
یوسف محمد المطبقاني ازجهاد افغان پشتیباني نموده گفت : نه تنها دولت عربستان سعودي ازافغان جهاد پشتیباني همه جانبه وکومك هاي مالي نموده بلکه اتباع عربستان درجهاد افغانستان داوطلبانه شرکت نموده وقرباني داده است .
سفیرافزود دولت عربستان سعودي کوشش هاي همه جانبه نموده تاادرپین تنظیمهاي جهادي افغانستان فضاي برادري رابرگرداند اختلافات رامرفوع وزمینهٔ تفاهم را مساعد سازه .

فیصله جرگه اقوام جنوب کشور:

ربانی بدون قید و شرط ازقدرت کنار برود واستعفای خویش را اعلان بدارد

درصورت انکاربیست هزارافرادمسلح یکجابه کابل حمله خواهندکرد

لوگر - اول میزان :
یك جرگه" بزرگ اقوام خوست، پکتیا ولوگر ازرباني خواسته هرچه زودترازقدرت دست بکشد واستعفاي خویش را اعلان نماید.
روزگذشته چهارتن ازموي سفیدان وبزرگان اقوام، ځدران ، منگل، جاجي، احمدزئي، تني، گربز ... درولایت لوگر تشکیل جرگه دادند، تمام بزرگان اقوام ازرباني خواستند که ازقدرت کناربرود واستعفاي خویش را بدون قیدوشرط اعلان نماید تاپك شوراي مشترك مجاهدین زمام حکومت راطورموقت رهبري نماید .
جرگه فیصله نموده که درین مورد یك هیئت رانزد رباني اعزام بدارد تافیصله هاي جرگه رابه وي ابرازنماید.
درجرگه فیصله بعمل آمده درصورت انکار رباني بیست هزار افراد مسلح اقوام مذکور بامخالفین ادارهٔ رباني یکجا به کابل حمله خواهدکرد.

ربانی باید ژرترژره قدرت یوی مؤقتی اداری ته وسپاری

په کابل کی دپاکستان دسفارت سوځیدل له مهاجرینو سره خیانت دی

مانسره - د تلي ۱ :
ورمه ورځ په مانسره کي دربانی دواکمني داوږدېدو په خلاف یوه درنده غونډه وشوه.په غونډه دمانسري دېبلابېلو کمپونو ګن شمېر سپين ږيرو، ديني عالمانو ،قومي مشرانو اومهاجرينو ګډون کړي ؤ .
ددي غونډي دپرېکړو په باب معلم عبدالحي شهادت ته وويل چي غونډي ته په ګډونوالو مشرانواوعلماوو ټينګار وکړچي رباني دي ژرترژره استعفا وکړي اوپرې دي ږدي چي دافغانستان مجاهد ملت خپل سرنوشت په خپله وټاکي .
عبدالحي وويل چي ګډونوالو په کابل کي دپاکستان دسفارت سوځېدل په پاکستان کي له لکونومهاجرينوسره پولوي خيانت وباله اوله رباني نه ئي وغوښتل چي ژرترژه له اسلام دښمنوقوتونو سره خپلي اړيکي پرې کړي .

تعداد کثیري ازبزرگان وموسفیدان پنجشیرازمسعود خواسته اندکه به یك راه حل آبرومندانه تن دردهند

کابل - اول میزان
یك منبع مؤثق- بـه ادارهٔ شهادت گزارش دادکه جمع کثیري ازریش سفیدان وبزرگان اقوام مختلف پنجشیرضمن ملاقات تفصیلي که بامسعود داشتند باتشان دهي عوامل سقوط ادارهٔ کابل ازمسعود خواستند تاهرچه زودتر به یك راه حل آبرومندانه تن دردهد. آنهابه مسعود خاطرنشان ساختندکه باگذشت هرروز حلقهٔ محاصره ازچهارجانب بالاي ادارهٔ انحصاري اوتنگ ترشده میرود باوصف آنکه درظرف سه ونیم سال گذشته ایشان فرزندان شان را درجهت حمایت ازوي وادارهٔ دلخواه اوبه خطوط مقدم جبهه فرستاده اند ، باآنهم وي توفیقي درجهت حصول برتري وتفوق بالاي رقیبان خویش نداشته بنا ً ایشان بیشتر ازاین توان تحمل ازدست دادن فرزندان خودرا ندارد .
منبع علاوه میکند مسعود به موسفیدان وبزرگان پنجشیراطمینان داده که وي از حمایت وسیع مالي ونظامي هند، روس وایران برخوردار بوده وبامخالفین خویش باقوت تمام به مقابله خواهد پرداخت .
مسعود گفته که آنها درچندروزآینده شاهدپیروزي بزرگ «دولت اسلامي» دراستقامت شرقي کشورخواهندبود.
خبرمي افزایدکه حرفهاي مسعود براي مردم پنجشیرجاذبهٔ قبلي خود را ازدست داده واکنون مردم آن منطقه درحالت تشویش واضطراب کامل بسرمي برند .

قاري مشهورکشورجناب قاري "وقار" درصحبت باجریده شهادت :

عصرحاضر،عصرمعنویت وعصر آموزش وفراگیري علوم قرآن است

ص (۳)

محمود مستیری :

ملت افغان باید به رهبران شان فشار وارد سازند تامتحد شوند

پشاور - اول میزان :
بي نظمي درافغانستان به اوج خود رسیده واکنون نوبت فرا رسیدن صلح است
اینمطلب رامحمودمستیري نمایندهٔ خاص سازمان ملل در امورافغانستان بیان نموده . وي که باخبرنگاران خارجي صحبت
ص(٤)

دپروان دسبزپارسامشران وایي :

دافغانستان ستونزه باید دانتخاباتو له لاری اواره شی

حکومت پرته په بل هیڅ شي هم قانع نشي،

پروان - تله ۱ :
دپروان ولایت په سبزپارسا ولسوالي کي پرون دهغه ځاي دسپین ږیرو ،علماوو اومخورو یوه درنده غونډه وشوه .
په غونډه کي برخوالو په هیواد کي دوروستیو بدلونونو اوانکشافاتو په برخه کي دنظرتبادلي وکړي اوپه افغانستان کي ئي دیوه سوچه اسلامي حکومت دجوړیدو په هکله یوله بل سره تفصیلي خبري وکړي .
په سبزپارساولسوالي کي یومسئول خبرخاي شهادت ته وویل چي دغوندي په پاي کي د غوندي دبرخوالو په نمایندګي ملك فتح محمد خان دیوه پریکړه لیك په صادرولو سره اعلان وکړچي دپروان مومن اومجاهد ولس په لـه یوه سوچه اسلامي
ملك فتح محمدخان وویل چي په هیواد کي دسولي دټینګښت لاره دانتخاباتولاره ده باید دافغانستان ستونزه دانتخاباتوله لاري حل او فصل شي .

از سوی وزارت خارجه پاکستان :

سیزده تن ازکارمندان سفارت وقونسلگری های ادارهٔ کابل در پاکستان نااهل قرارداده شدند

ص(٤)

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

بیانگرعقاید وارمانهای حزب اسلامی افغانستان

صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان

مؤسس : انجنیرحکمتیار

ناشر : ریاست ارشادوفرهنگ

تحت نظر هیئت تحریر

تیلیفون : ۲۵۶۳۷۸۹

آدرس پستی : ۳۶ ۱ یونیورستی تاون -پشاور

روشنفکران کیااند؟

حکومت اسلامي ،حکومت اختناق ، انحصارگری ویک دنده گی نیست

هرگاهیکه صحبت ازحل سیاسی درمیان می آیدوخصوصاً این روزها که نمایندهٔ خاص سازمان ملل براي ایجاد تفاهم میان جناحهاي درگیربه فعالیت آغازنموده کلمهٔ « روشنفکر» ودرمفهوم مشروحترازه«روشنفکران افغانستان» بعنوان یك قشرمشابزوبالانشین ویاقشریکه میخواهد درمحتواي یك حل سیاسي وتشکل دولتي بعدي سهم تعیین کننده وقابل ملاحظهٔ اودرنظرگرفته شود، صحبت بمیان می آید .

درحالیکه همه باهرطرزفکر وهرموقعیت گروهي وسیاسي به استعمال کلمهٔ روشنفکرتقریباً کم وزیاد علاقه نشان میدهند ولي دیدگاه هاي هرکدام دربخش مفهوم ومعناي این کلمه ، ازهم متفاوت میشود. درمجموع ، پیروان هرمکتب، باتکیه برکلمهٔ « روشنفکر» ، میخواهد تصویرکامل وموافق باچرخ زمان را ازاندیشه خود ترسیم نماید.

اما کاربردمنفي کلمه روشنفکرزماني پیش مي آید که این کلمه ، براي یك مقصد نامطلوب وغیرمشروع مورد سوء استفاده قرارمیگیرد . مثلیکه تایك دهه قبل کلمهٔ روشنفکر، درانحصارکمونیست هابود، یکدسته مردم تاحالانیز، طرزفکرالحادي ومادي شانرا جلوه روشنفکرانه میدهند ومعتقدان معنویت ومذهب را ، عقب گراوتاریك فکرمیخوانند .

دستهٔ دیگربراي توجیه یك معاشره لاقیدانه وبراي ترویج واشاعهٔ فرهنگ بي حجابي وعریاني ومسایل مرتبط به آن به کلمهٔ روشنفکرمي چسپند وهواداران عفت، حجاب وتقوا رابالقب کهنه خالي وانجماد فکري ملقب میشمایند .

سؤال این است که مفهوم «روشنفکران افغانستان» درمقطع کنوني به چه مقصدي ازطرف مخالفین جهاد عنوان میشود. آیا روشنفکران همان افرادي رامیگویند راه کاربرد دین وعقیده رابرحسب مقتضیات امروزبلدباشند؟ ویاروشنفکران به کساني میگویند که معتقدومتمسك به حجاب ومعاشرهٔ اسلامي هستند !

البته دراینجا قصدنداریم که از روي منفي گرایي وبدبیني وارد قضیه شویم ولي وقتي درمصاحبه هاوتحلیل ها ، روي افرادي بعنوان روشنفکر تکیه میشودکه نه به حجاب ومعاشرهٔ اسلامي پایند اندونه متمسك به ارزشهاو اعتقادات معنوي، این مفهوم خودبخود آشکارمیشودکه مرام اکثرمنابع ازکاربرد« روشنفکران افغانستان» مفهوم یك قشر سیکولرو موافق باسنت هاي یك تمدن مادي وغربي امروز را افاده میکند .

بااینصورت، وقتي نقش روشنفکران درحل سیاسي قضیهٔ افغانستان، وازسهم گیري آنها درحکومت آینده اشاره میشود، مرام این است که عناصرغیرمذهبي وبلکه عناصرمخالف اسلام درنقاط حساس دولت آینده مدنظرگرفته شود. اگراین بیان ازطرف حلقه هاي مخالف جهاد، ازجانب سازمان ملل ویاازجانب خود اینگونه روشنفکران عنوان میشود ، چندان محل تعجب وسؤال نیست چونکه آنهاباید بوشاید یك چنین طرزفکروجهانبیني راداشته باشند ، مرام آنهاایجاب میکندکه باید درصدد ربودن ابتکارازدست عناصرمذهبي وجهادي باشند. اما جاي تعجب این است که این تقاضا گاهي ازطرف برخي عناصروحلقه هاي مذهبي وجهادي نیز فهمیده یانفهمیده عنوان میگردد . این حلقه هابراي اینکه وانمودبسازند آنها متعصب وانحصارطلب نیستندا ویااینکه همدردي وتائید محافل خارجي رابطرف خود جلب نمایند، همیشه ازنقش گیري روشنفکران افغانستان بعنوان یك قشر برجسته ا وجدا ازجامعه صحبت بعمل مي آورند .

این دوستان تاحال متوجه نشده اندکه تأسیس حکومت ازطرف مجاهدین وبوسیلهٔ مجاهدین انحصارطلبي نه که یك حق مسلم آنهامحسوب میشود، زیرا درهیچ یك ازنقاط دنیادیده نشده که یك قشراکثریت، حکومت خودرا باکساني قسمت نمایند که درطرزفکروداریه وپروگرام باآنهامخالفت داشته باشند .

واضح است کسي که درمباني فکري بایك نظام مخالف باشد، هیچگاه پرزهٔ فعال ومفیدي براي آن نظام شده نمیتواند .

طرح یك حکومت مختلط ومشترك ازروشنفکران به اصطلاح سیکولروعناصر مذهبي ازلحاظ منطقي یك طرح عملي نیست وقانون طبیعت نیز این را ردمیکند که چرخ یك ماشین ویا یك نظام بادوقوهٔ متضاد باراي حرکت وفعالیت پیدانماید .

وچون اختلاط مذهبي وغیرمذهبي وموافقین دین ومخالفین دین دریك تشکل میسروممکن نیست، للا باید قبول کرد که طرح این مسئله درحقیقت بمنظور سبوتاژکردن وخدشه دارساختن مرام عمومي جهاد براي تأسیس یك حکومت اسلامي براه انداخته میشود.

البته کسانیکه تصور یك نظام حقیقي اسلامي را باخود دارند، میدانندکه نظام اسلامي باتعصب وانحصارطلبي جوردرنمي آید ونظامي که درآن اختناق وتعصب قشري وفرقه اي جاي داشته باشد، نمیتواند یك نظام ایده آل واسلامي باشد. للا پشتیباني ازتیوري حکومت اسلامي خود دربرگیرندهٔ این مفهوم است که درنظام اسلامي افغانستان ونظامي که جاگزین ادارهٔ فعلي کابل میشود به تعصب وانحصارطلبي که متأسفانه ازمشخصات بارز ادارهٔ آقاي رباني مسعود شده ،جایي باقي نمیماند وحکومت اسلامي قبل ازهمه عرصه ساز آزادي بیان وتأمین کننده حقوق وامتیازات عالیهٔ مدني واجتماعي بشري مي باشد .

حال اگربخواهیم جریان رسیدن بیك حکومت مردمي واسلامي راتسریع نمائیم وپشتیباني افکارعامه جهان رادرپشتیباني این دیار جلب نمائیم راهش این است که باعمل معقول وبابیان روشن وقانع کننده خواست خود را درجامعه بین المللي عنوان نمائیم ونشان دهیم که حکومت اسلامي حکومت اختناق وحکومت انحصارگري ویك دنده گي نیست .

مجاهدین ضرورت به این دارندکه مواضع واهداف خودرا هرچه بهترنشاندهي نمایند نه اینکه براي کسب مرام و باحصول اقتدار سیاسي به دیگران امتیازبدهند و اشتراك روشنفکران مخالف اعتقاد اسلامي را درتشکل یك دولت که خودیك توطیهٔ بین المللي ویك فکرنامفهوم وغیرعملي است، عنوان نمایند .

مسعودصاحب څه شي ته په طمع دی؟

محمدنذیر"بشارت"

داحمدشاه «مسعود» په باره کې یووخت په یوه مجلس کې یوجنرال چې له مسعود سره ئې څه وخت تیرکړی و، او داوږدې تجربې اولوړوتحصیلاتوخاوندو، نوروته معلومات ورکاوه ، دخبروپه یوه برخه کې ئې وویل چې زه ګومان نه کوم چې « مسعود » دې له خپل سکتي ورور سره هم په راسته کې وي اوپه اخلاص دې ورسره معامله وکړي، ماتې خبرې ورقطع کړي، ورته ومې ویل چې د«مسعود» صاحب پـه برخه کې یوه داسې چاچې دزیاتې مطالعې اوژورفهم خاوند دی اوله هغه سره ئې زیاتې ناستې ولاړې شوي، یوه ورځ وویل چې «مسعود خورا بااستعداده ، فعال اوبیدارسړی دی، باید په هیڅ توګه ضایع کیدوته پرینښودل شي، خو دهغه لویه نیمګرتیا داده چې دومره په توطیه باورلري چې «حتي له ځان سره هم توطیه کوي» ! آیادې کس مبالغه نه ده کړې ! »

جنرال چې دخبروکولو اوافادې ځانګړي مهارت درلود، لندمکث ئې وکړ ، چت ته ئې وکتل ، بیائې ژر په لوړاواز وویل چې «متأسفانه د مسعودپه باب دقیق تحلیل اوانځورنه همداستاددوست خبره ده . »

زه فکرکوم دیوې مودې لپاره مسعود هرچاته د«ګپ » ورکولو استعدادلري، البته دادمقابل لوري په ذهانت ، او هوښیارۍ اوپوخه دشرایطو په څرنګوالي پورې اړه لري چې د«مسعود » د«چالاکۍ» په جادوکې څومره پاتې کیدای شي .

دپاکستان جنرال حمید ګل خورا ذهین، بامطالعه اوتیز هوشه سړی دی، په یوه ډیره مهمه مرحله کې ئې دپاکستان دنظامي استخباراتو او بیا آی، ایس آی دشبکوریاست کړی، په داسې وخت کې چې په دې سیمه کې یوه ستره حادثه روانه وه اودپاکستان دجمهوررئیس مرحوم ضیاء الحق دداخلي اوبهرني دواروسیاستونو یوه مهمه ستن همداشبکې وې .

همداجنرال حمیدګل تردیره حده «مسعود» جذب کړی و ، دااحساس ئې ورکړی ؤچې هغه وریاندې لوی حساب کوي ،نظریاتوته ئې په درنه ګوري، «دی دپیښو، اسلام اوامت دقضایاوو په برخه کې ورسره یوشانته نظر ،طرحه اودریځ لري جنرال حمید ګل تریایه په دې ټینګارکاوه چې «مسعود» له حزب اسلامي سره نورهیڅ مشکل نه لري ،بواځیني ستونزه ئې داده چې پرحزب اعتمادنشي کولای، زړه نشي وروړای اوتري ویره لري چې ضربه به واکړي، که هغه ته په دې برخه کې ذهني او روحي تحفظ ورکړل شي، باوروته تضمین کړای شي نود موضوع حل ده اواساسي پرابلم نه پاتې کیږي .

غزني ته دطالبانوتررااتلو څو ورځې دمخه ماپه چهارآسیاب کې ورته وویل چې : جنرال صاحب ، تاسې په دې کې کاروکړئ چې «مسعود » دادرک کړي چې هغه دافغانستان ملي «لیډر» نشي جوړیدای، په ټول هیواد کنترول نشي ټینګولای، هغه که هرڅه دې خود«جهاد» اوه«خپلواکۍ» د«مبارزې » دیوې مهمې څېرې په توګه مشهورشوی، پردي طاقتونه ئې دیوې مقطع لپاره خوښوي، هغه هم ددې لپاره چې تریوه وخته جګړه ادامه وکړي، بیاورته دمنلو وړنه دی، یووخت به ئې خامخادیوې سولیدلې پرزې په توګه غورځوي .

په دې جګړه کې دده دغلبې هیڅ چانس نشته ،دیوې تخریبي عملیې لپاره دیوې موثرې مهرې په توګه استعمالیږي ، چې کله اړتیا رفع شوه ، په هماغه لحظه به ئې دنابودۍ بندوبست کیږي ، نوښه داده چې له دې فرصت نه دهیواد دکړکیچ داوارې لپاره استفاده وکړي، او دهیواد بحران په یوه « معقول» اوه« اصولي» بنسټ حل شي . »

خودجنرال صاحب استدلال همداوچې باید حزب اسلامي مسعود ته یوروحي اوذهني تحفظ اوچتروکړي، که داکاروشي مسئله اواره ده .

موږورته ویل چې متأسفانه احمدشاه «مسعود» ځان اوخپل سیاست داسې عباروي چې تیغ په تیغه دیوه بهرني طاقت له ګټو، میلانونو اوارادو سره تطابق ولري اوده‌غو له لوري سره سم روان شي .

مثلاً هغه فکرکوي چې روسیه په افغانستان کې له جګړې سره دلچسپي لري، دتعصباتواونفرتونوداورونوله بلولو سره علاقه لري، همدارنګه څینې نورمهم طاقتونه داسلامي بنیاد ګرائي له حاکمیت سره حساسیت لري اوداغواړي چې دیوې مودې لپاره جګړه وي، دی بې له دې چې یو نظریاتي ګرایش په پام کې ونیسي دخپل ملت دسرنوشت تقاضاته وګوري اودې ته توجه وکړي چې دیوه مسلمان اوافغان په توګه ئې «مسئولیت » څه دی اوولس تري څه انتظار لري، دهماغو بهرنیوسیاستونو له لوریو سره ځان عباروي اوپه دې کې په یوه ملت باندې د«غلبې » خوبونه وینې .

ددې یوښه ثبوت دادی چې «مسعود» تراوسه ددې اړتیا نه ده احساس کړې چې دی باید ولس ته یوه طرحه ولري له یوه پیغام سره عمل وکړي، دملت دقانع کولو ضرورت درك کړي، داووائي چې زه دانظرلرم،دا غواړم، دامې برنامه ده ، اودامې ارمان، هغه فکرکوي چې بهرني ملاترچې « زور» اوپیسې ئې حتمي سوغات دي دده د«فتحې » عناصردي، نوردملت تصور، قضاوت ،احساس ، عمل اوعکس العمل ورته ډیره روښانه اوڅرګنده معنی نه لري .

هغه که یو شي چې یوه طرحه اولایحه هرڅومره معقوله وي، اودده پکې تاوان هم نه وي، خوچې دخارجیانو په نظر کې دده افـادیت تر پوښتنې لاندې راولي، دهغوې دګټو له مخې مصلحت نه وي اوهغه لویه ختموي دکومې لپاره چې ده ته اهمیت ورکړل شوی «مسعود» به ئې مخالفت کوي .

جنرال حمیدګل داخبرې نه منلې، استدلال ئې داوچې که مسعود کمونستان په غیږکې نیولي اویائې په بهراتکاکړې علت ئې دادی چې له حزب نه ویریږي اومسعود وائي چې که زه یوه ورځ همدابهرني ملاتر اوکمونستان له ځانه لرې کړم ، حزب اسلامي مې نه پرېږدي .

دجنرال حمیدګل ټینګارهمداوه چې که حزب اطمینان ورکړي، مسعود غواړي بحران حل کړي .

موږچې هرڅومره استدلال کاوه ،بې ګټې و مګردخدای شان نه ګوره چې حزب اسلامي له چهارآسیاب نه راووت اوپه خپله مسعود دغوړوویل چې ګټې حزب اسلامي نورله صحنې ووت اوپه قضایاووکې ئې نقش دحساب وړنه دی، مګر بیا هم هماغه مسعود و، هماغه جګړې، هماغه دسولې مخالفین اوپه رشوت ،زور اوتوطیه دمخالفینو دماتولو خوبونه .

مسعود چې په کابل کې دپاکستان په سفارت کومه قهرآمیزه حمله وکړه ،دانه هسې عکس العمل و، نه اشتباه ،نه ، بواځې دهرات دپیښې په اصطلاح بدله . ددې اساسي علت داوچې «مسعود» غوښتل مشخصوبهرنیوطاقتونوته خپل «افادیت» اوه«اهمیت» وښئي، «مسعود» اصلاً له دې وحشت لري چې وضعه دغسې یوه حالت ته ورسیږي چې دیوه «مؤثربهرني طاقت لپاره دده موجودیت په کې یوضرورت نه وي، دهغه ګټې دده له حضوراونقش سره ارتباط ونلري، ددې وجه داده چې پـه ده کې دیوه ملي شخصیت دجوړیدو کفایت نشته ، ددې اهلیت ورسره نشته چې لـه معقولیت اومنطق سره راوراندې شي، په صداقت عمل وکړي اوداظرفیت وښئي چې دټولو لپاره په جوړافغانستان کې دژوند اوتاثیر درلودو هڅه وکړي .

احمدشاه «مسعود» اوس هم دې ته په طمع دی چې کـه دخپلوبهرنیولوریو خواخوږي اوعلاقه ورسره کمه شوې خودمسکو، دیلي اوتهران ورسره په قوت پاتې ده اودهغودمرستوپه ملاتړبه ئې د ترخوچې چلیږي چلوي» موږد«مسعود» صاحب ته وایوچې ګـوره دوې نیم کاله دمخه داوسني ملاتر څوچنده بهرني تائید درسره و، ټوله بهرني نړۍ دې په یوه اوبله بڼه ترشاولاړه وه ، داخلي قوتونه هم اکثریت درسره ملګري‌وو، مګر نتیجه ئې څه شوه ؟ دکابل رنګیدل، دوطن بربادي، اوترټولو زیاته ستابدنامي اورسوائي .اوس چې هم داخلي وضعه درته خرابه شوې اوهم دې بهرني ملاترکم شوی نوسوچ وکړه چې وضعه به په کومه خوا درومي ؟

دوهمه خبره داده چې نـن عملاً هغوطاقتونو پریښودې چې پرون ئې دیوه ځانګړي هدف لپاره د«انتخاب » وې ، دمجلـو تاپیلونـه ، دورځپانو مخونه ، درادیـوګانـو څپې او د تلویزیونونو «سکرینونه» ئې ستا دستاینې په خدمت کې و، په مختلفو«القابو» به ئې یادولې، «قهرمان» او «جادوئي شخصیت» به ئې بللې، که هغوې پریښودلاې شوې ،بلکې اوس دې دیوې نامطلوبې څېرې په توګه ، د«سولې » اود«حل » دخنډپه حیث یاده وې، نوبیاپه دې پاتې دریو (مسکو - دیلي - تهران) څه باوردی چې سبادې په داګ پـریـږدي ،د«نامطلوب پیښې په څېردې چیرې غورځارکړي هغوی به !:څوستادناکامیو باروتوته اوږې ورته کړې وي، موږ یقین لرو چې هغوې به خامخا اودېرژرله تایه تنګیږي، که مسکو ، نجیب پریښودلای شوای ، وطن ګوندئي خوشې کړای شوای اوتهران له حزب وحدت نه تیرشو، نوتابه دیوه اغزن اوبې ګټې پیښې په څېرترخوپه اوړو ، ګرځوي؟ نوبه همدې بناموږ فکرکوو یکاره «مسعود»صاحب بې له دې چې یومخ وریاندې ناوخته شي، حالاتوته په نوې زاویه اونوې روحیه وګوري او په نوي احساس او سنجش تصمیم ونیسي دی باید متوجه وي چې واقعیتونه اوجریانات یوځل یاغي شي، دچاله واګه ووځي، بیا هغه هم داسې چې دباغي کیدوعوامل ئې هم زیاتره په خپله په هغه چااویا «نیرو» کې وي چې حالاتوئې په خلاف مخ اړولي، نوبیا هوښیاري داده اودنجات رمزپه دې کې دی چې له څپو ځان بچ کړي، باترې ګوښه شي اودڅپوپه استقامت تګ ته ځان چمتوکړي، له دې پرته هسې بې نتیجه ټکرارم کول څپلې لا بربادي ته بلنه ورکول دي .

**

نکته نظرات رئیس جمهور اتحادی المان درمورد تفاهم غرب با اسلام

اروپااستطاعت جنگ بین فرهنگ اسلام وفرهنگ غرب راندارد

ترجمه :حامد

میرمن آنه ماری شیمل (AnnemarieSchimmel) مستشرق آلمانی برنده، جایزه، صلح سال ۱۹۹۵ بنیاد کتاب آلمان شناخته شده است، انجمن کتابفروشان و ناشرین آلمان بخاطر انتخاب میرمن شیمل بعنوان برنده، جائزه، صلح با اعتراضات محافل گوناگونی مواجه شده است، مخالفین اعطاء جائزه به میرمن شیمل ادعا دارند که این مستشرق آلمانی فتوای قتل سلمان رشدی را تلویحاً مورد حمایت قرار داده است.

شاغلی رومن هرزوگ (Roman Herzog) رئیس جمهور جمهوریت اتحادی آلمان اخیراً اعلام داشت در مراسمی که بافتخار میرمن شیمل بتاریخ ۱۵ اکتوبر سالجاری میلادی (۲۳ میزان ۱۳۷٤) در کلیسای سنت پول شهر فرانکفورت آلمان دائرخواهد گردید، شخصاً در تقدیر از میرمن شیمل سخنرانی خواهد کرد. رئیس جمهورآلمان چند روز قبل طی مصاحبه ای که با فرانکفورتر آلگمانیه سایتونگ یکی ازروزنامه های معتبر آلمانی بعمل آورد، علاوه بر اهمیت تصمیمش، نکته نظرات پراگماتیکی در مورد روابط فی مابین جهان اسلام و جهان غرب ابراز داشت. رئیس جمهور آلمان این نظریه را که گویا درگیری بین این دو فرهنگ اجتناب ناپذیراست، رد کرد، شاغلی هرزوگ به نفع تحمل اختلافات فرهنگی و دینی استدلال کرد و البته آنرا مشروط به این اصل خواند که آزادی دینی نباید به گونه ای مورد سوء استفاده قرار گیرد که منجر به نقض حقوق بشرگردد.

در ذیل ترجمه، دری نکات فوق العاده مهم مصاحبه، رئیس جمهور آلمان بحضور خوانندگان جریده، شهادت تقدیم میگردد.

سؤال: تصمیم شما مبنی بر ابراد بیانیه در تقدیراز آنه ماری شیمل، حامل یك سگنال قوی برای جهان اسلام خواهد بود. آیا شما قصد دارید با این سخنرانی تان ابتکار "تحول" جدیدی "از طریق ایجاد روابط حسنه" را بدست گیرید؟

پاسخ: فکرنمیکنم "تحول از طریق ایجاد روابط حسنه" تعبیر دقیقی باشد. نظر من اینست که این دو فرهنگ -- فرهنگ ما و فرهنگ اسلام -- تا هنوز اصول اساسی همدیگر را خیلی کم شناخته اند. لهذا، نمیتوان درین نقطه از ایجاد روابط حسنه صحبت بعمل آورد.

البته ما باید شناخت از همدیگر را توسعه بخشیم تا بتوانیم به نوعی راپروشمان (Rapproachment-ایجاد روابط حسنه) نائل آییم. از نظر من این مسئله محدود به اسلام نبوده بلکه شامل نظامهای عمده، دینی جهان -- اسلام، هندوییزم، بودیزم و فلسفه، کانفوسیوس نیزمیشود. دنیا در حال کوچك شدن است و ما بدون اینکه راجع به همدیگر بیشتربدانیم، قادر به همزیستی درین جهان همواره رو به کوچکی، نخواهیم بود.

ضمناً در حال حاضر بالغ بر دو میلیون مسلمان اینجا در آلمان در میان ما بسر میبرند. همزیستی با آنان نیز مستلزم تفاهم متقابل است.

سؤال: میرمن آنه ماری شیمل پس از آنکه در مورد کتاب "آیات شیطانی" اثر سلمان رشدی مطالبی ابراز داشت، اینك به یك برنده، متنازع فیهای جائزه، صلح بنیاد کتاب آلمان مبدل شده است. چرا شما هنوز هم مصمم هستید در تقدیر از وی سخنرانی کنید؟

پاسخ: بلافاصله پس از آنکه انجمن ایشانرا بعنوان برنده، جائزه انتخاب کرد، من موافقت کردم که در تقدیر از میرمن شیمل سخنرانی کنم. یعنی مدتها قبل ازینکه ایشان مطلبی در رابطه با کتاب مذکور گفته باشند و نیز قبل از آنکه این مشاجره آغاز گردد.

مشاجره ایکه در اثر بعضی از اظهارات میرمن شیمل پدید آمد، دقیقاً از وضع دشواری نمایندگی میکند که ما در آن قرار داریم؛ و همچنان نشان میدهد که به رفع کدام سوءتفاهمات از جمله در میان ما اروپائیان، مبادرت ورزیم. مسئله اینست که علی الرغم عملکرد سائر فرهنگها یا استنباط ما ازآنها، ما در چه حدی درك و تفاهم از سائر فرهنگها را میتوانیم مجاز بشماریم؟

جهت تصریح مسئله باید گفت. اگر یك گروه قاتل که در پی سلمان رشدی باشد، در آلمان دستگیرشود؛ طبعاً با آن بعنوان آن چیزی که هست --یعنی دسته ای از آدمکشان-- مطابق به قانون جزا برخورد صورت میگیرد، نه مطابق با اصل قانون اساسی آزادی دینی.

سؤال: چه فکرمیکنید، آیا تقدیر شما از میرمن شیمل این خطر را در پی نخواهد داشت که موقف سلمان رشدی راتضعیف کند؟

پاسخ: نهخیر. فکرنمی کنم چنین اثری برجاگذارد. سخنرانی من بگونه ای ترتیب خواهد شد که چنین موضوعی پیش نیاید. البته، مسلم است که سخنان من از سوء تعبیر مصؤن نخواهند بود. ولی من آزادی بیان خود را از ترس سوء تعبیر از دست نخواهم داد؛ بالخصوص زمانیکه مسائل حائز اهمیت حیاتی ای چون این مسئله مطرح باشد، من حق آزادی بیان را برای خود محفوظ میدانم.

سؤال: آیا در رابطه با سرنوشت سلمان رشدی، سخنرانی شما حامل یك سگنال (تلویح) برای ایران خواهد بود؟

پاسخ: سگنال (تلویح) آشکار است:

الف: فتوای قتل سلمان رشدی قابل قبول نیست. درین رابطه هیچ نوع سازشی صورت نخواهد گرفت. حتی در میان مسلمین شك و تردید در مورد این فتوی رو به افزایش و تعداد منتقدین آن در حال تزاید است. تمام جهان اسلام درین مورد هم نظرنیست. ایران باید بداند که خود را با خطر انزوا از جهان اسلام نیزمواجه خواهد ساخت.

با: حمله بر رشدی به مثابه، حمله بر نظم قانونی ما تلقی خواهد شد.

جیم: در مورد جنبه های عملی فسخ فتوی، باید به مذاکره پرداخت.

سؤال: آیا شما کتاب "آیات شیطانی" را خوانده اید؟

پاسخ:نهخیر، نخوانده ام. البته نیازی هم نیست که بخاطر درك اسلام، این کتاب را خواند.

سؤال: وقتی به پاکستان رفتید، میرمن شیمل همسفر شما بود. در پاکستان ایشان مورد احترام و اکرام زیادی هستند. آیا تصمیم شما مبنی بر ایراد بیانیه در کلیسای سنت پول، حامل پیامی برای جهان اسلام خواهد بود؟

پاسخ: انگیزه، اولیه، من، قبل ازینکه مشاجره ای در مورد میرمن شیمل پدید آید، همین بود. من همواره معتقد بوده ام که فرهنگهایی وجود دارند که به دین شان به مراتب قویتر از آنچه ما درین بخش از جهان پابند هستیم، التزام میورزند. این چیزی بود که بالخصوص در جریان سفرم به پاکستان آموختم و تجربه کردم.

میرمن شیمل در پاکستان و سائر کشورهای اسلامی فوق العاده مورد احترام است؛ نه بخاطر بعضی نظراتی که در مورد رشدی ابراز داشته است. بلکه بخاطراینکه یکی از معدود علماء جهان غرب است که بصورت آشکار قادر و مائل است که این فرهنگ دیگر (اسلام) را بصورت کامل دریابد؛ و مردم آن سامان با این مسئله برخوردی عاطفی و محبت آمیز دارند. این نکته میتواند حتی در مذاکرات سیاسی نقشی داشته باشد. هدف من از دعوت از میرمن شیمل جهت همسفری با من، این بود که میخواستم وجود ایشان در هیئت ما یك تلویح و سگنال باشد. زیرا افتراق متزایدی که ما در اروپای غربی از یك طرف بین سیاست و شغل، و از طرف دیگر بین فلسفه و ادبیات داریم، در آنجا از آن خبری نیست. باید یادآوری کنم که ابتکار من (همسفری میرمن شیمل) با عکس العمل مطلوبی مواجه شد.

سؤال: در رابطه با بنیادگرایی اسلامی سؤالی دارم. اطلاع دارید که خالد دوران نویسنده، مسلمان از "خشم علیه آلهه، شعر و موسیقی و مفاسد آنان" سخن رانده است. نیروهایی که میخواهند مؤلفین و هنرمندان را بعنوان نمایندگان فساد غرب مورد حمله قرار دهند، نه تنها در ایران، بلکه در الجزایر، لیبیا، پاکستان، مصر و ترکیه نیز در حال افزایش اند. چطور میتوان با کشورهایی که درك شان از فرهنگ، توسط دین شکل میگیرد، یك دیالوگ سیاسی را انجام داد؟

پاسخ: قبل ازهمه، بوسیله، ارتقای سطح آگاهی از طریق گفتگو و از طریق مقایسه، متقابل موقعیتهای طرفین. گمان دارم مسئله منتج باین شود که درز و شکافی وجود دارد که همه، فرهنگها را خواهد برید. بین کسانی که چند گام فراتر می اندیشند و کسانی که آنانرا بنیادگرا

ص (۳)

له مسلم ورځپانې نه منته

حال دویلو لایق ندی

مهم انکشاف !!!

میوند

هغه بله ورځ دکابل واکمنو په اصطلاح یومهم انکشافات وراندي کـړ او ژورنالستانوتـه یې پـه ځـپل زعم دپاکستاني جاسوسانو دنیول کیدو شواهد وښودل. دوي دداسي شواهدو او اسنادو یادونه اوښودنه وکړه چې ژورنالستان یې هم هك حیران کړل چې آخریومسلکي جاسوس څنګه داسي حماقت کوي چې ځېکاره اسناد له ځان سره وګرځوي، له بلې خوادغو اسنادو اوشواهدو په رابطه هم دجعل شك ځکه کیدي شي چې که مبالغه ونشي هره ورځ په بیلابیلو هیوادونوکي دکابل دسفارت او قونسلګریوله خوا اجراشوي په لسګونو جعـلي پاسپورتونه اوویزې نیول کیږي چې سیاسي نمایندګي هم دهغو په جعل سترګې نشي پټولی .

څه موده مخکې داسي پېښې افرادهم نیول شـوي وو چې دکابل سیاسي نمایندګیویږي پـه دیرلورقیمت افغاني پاسپورتونه پلورلي وو له دغوکسانوکیدي شي دېریې له بین المللي تروریزم اویاهم مافیاسره ارتباط ولري چې دکابل داسلامي حکومت له برکته په ډیره اساني افغاني تشلښتي اوپاسپورټ استعمالولي شي. له همدي ځایه ده چې په تروریزم ،قاچاق اومافیاکي دککرتیا په ټورونو افغانانوته دهرچاګوته نیول کیږي او هرافغان چې خارج ته ځي دشك په سترګه ورته کتل کیږي اوټول افغانان یې له شرم اوخجالت سره مخامخ کړیدي .

خبره دکابل دوروستي انکشاف وه کله چې په افغانستان کي جهادروان وو او دکابل اداري مدعیان په پاکستان کي په فعال ډ دیبرك اونجیب رژیمونوهمداسي ادعاګاني اوپه اصطلاح انکشافات وراندي کول هغوي به هم ژورنالستان راټول کړل دکنفرانسونو په یوه سالون کي به یې ترتیبات ونیول دمیزدپاسه به یې همداسي خندني اسناد اوشواهد کیښول اوخوټته به بې چې یاپه زوراوجبرنیولي اویاهم تطمیع کړي و اعترافاتوته ار کړل، دالویه اودرامه دکابل تلویزیون په هره مباشت کي یویادوځله وراندي کوله . زماپه یاد دي چې یوځل یې په یوه عرب همداسي اعترافات اواسناد وراندي کړل چې دا مصري دي اوداشرارو دروزني اولارښوونې وظیفه په غاړه لري اودهیواد بیداروسله والوقوتونوتیرولي دي هغه هم ځپل جرم ومانه اوپخپله وظیفه یې اعتراف وکړ. پداسي حال کي چې هغه مصري نه بلکې یوکمونسـت فلسطیني ؤ چې په کابل پوهنتون کي یې زدکړه کوله اوهغه وخت ټولو محصلینو ته داموضوع معلومه وه .

آخرداکومـه هوښیاري او مسلکـي مهارت دي چې یوجاسوس دي له ځان سره حتي دځپل هویت ، شناخت اواریکوپه اړه اسناد وګرځوي داکارکه دکابل دواکمنو لندغرجاسوسان وکړي وبه یې کړي خو فکرنه کیږي دنوري نړي جاسوسان دومره ساده وي .

له همدي ځایه ده چې ژورنالستانوپه هماغه غونډه کي ددغې نیونې ، اسناد اوشواهدو په اړه دځپلوشکونوڅرګندونه وکړه اودایې یوه داسي درامه وګڼله چې بیاځي دکابل دواکمنوتخیل ته بلکې دځیال پلوزیږنده بلل کیدای شي .

راغلودجعل خبري ته؛ پدي اړه شایي ووایوچې دیوه نظام ټول چلښت جعلي وي هلته داصلیت هیڅ سوال نـه پیداکیږي .پیـه اولوټ جعلي - پاسپورټ او ویزه جعلي - ترفیعات او جنرالي جعلي ،شهادتنامي اودیپلوماسي جعلي خبرونه اوتبصري جعلي.نوبیا هلته داصلیت لټول په ورکولارو له ورکیدو پرته بل څه نشي کیدي .

له بده بخته به سري ووایي چې دکابل داداري په توم دنجیب رژیم ته دقدرت له ظاهري انتقال وروسته یواځیني شي چې ثابت پاتي شوي اوندي وران شوي لوټ اوتالان ندي پري ګډ اولاهم پراخ شوي اوآباد شوي هغه (خاد) دي په کابل کي هرڅه وران شول، هرڅه لوټ شول ، هرڅه وسوځیدل ان له بیخ اوبیکاردنه ورك اوله منځه ولاړل خوچې هیڅ پري ونه شول هیڅ بلاونه واهه ، له هري تکي اوتندر سلامت ووت اولاتورهم اباد اوودان شو همدا « خاد » دي اوبس .

دبهریوچارو وزارت آرشیف لوټ شو اوبیت اسناد اومدارك باخوپه بهرتیبو وپلورل شول اویاهم سوغات وررکړل شول. دکابل ملي آرشیف ،ملي موزیم پدي ټولو داسي بلاتازله شوه چې هیڅ هم تري پاتي نشول لکه چې یوه نښه اویادګاریې هم نه دي پاتي خودخاد ټولي نقشي، ټول پلانونه ټولي طرحې اوټول تخریبي وحشیانه اوظالمانه تاکتیکونه، جوړښت ، تشکیل اوفعالیت همداسي فعال پاتي شول اوبچه په تره وسائل شول .لکه چې دکابل واکمنو بواځي د« خاد » دساتني مسوولیت درلود بواځي د«خاد » په حفاظت ګومارل شوي .

اوټولي هلې ځلي یې دهمدي خاد په خدمت کي په کاراچولي شوي وي .ځکه خودادي وینو پخپلو ګنهګارو سترګو وینواوبه غریدلو سترګوګوروچې دهماغه خونړي خاد په نقش قدم دهماغه خانه خراب خاد په لیکه اوبل اودهماغه افغان دښمنه خاد په لارښوونه هغه څه تن کیږي چې پرون اوهغه بله ورځ دیبرك اونجیب رژیمونو کـول. داسي معلومیږي لکه چې توله اقتدأ په خاد پوري تړل شوي وي هلته هـرڅـه ، ټـول واك اختیاردخادوي ، دخادحکم چلیږي دخاد راج ټینګ وي اودخاد پریکړي اوفیصلي عملي کیږي .اوبیاچې له خاد سره (را) هم مل شي اوه رام دتري جوړشي نوه اعوذبالله من الشیطن الرجیم « خاد ته دکې چې یې هترلاربښوونه کوله اوله « رام » سره دو را « جادوګري مله شوه . ځکه خوسري ددغه دوول خبرونوپه اوریدو داسي فکرکوي اوهمداسي اندیښنه اوویره یې په سر اخلي لکه چې دیبرك نجیب دواکمنیو په وخت کي احساسیدله .

غشي راخوشي دنظرکره چې په زړه ولګم ګله چې ستادمخ زخمونه مي څتل په ژبه

##

داکترګلزارد "میوند" په یوه ستون انتقاد لیکلی ،

قضاوت به پری لوستونکی‌کری د "میوند" خوبنه چی ګلزار بی ځوابه پرېږدی اوکه دیوه "نقاد" په ویناکوم د "ګلوګوزار" وربانذی کوی .

میوند صیب !
نورحال مه وایه!!

داکترګلزار

دابه له انصاف نه لیری وی چی د "شهادت" په څوورستیوګڼوکی دښاغلی "میوند" لیکنی ونه ستایم . ربښتیاهم چی ورځنی حاد مسایل ئی په خوره ژبه تحلیل کړی اویکی نغښتی طنزئی د مضمون ښکلا لازیاته کړی ده .

زه دښاغلی میوند په اجازه غواړم دلته دهغوی دیومضمون (شهادت ، سه شنبه ۲۱ سنبله) په دری مشخصوټکوڅه ولیکم . البته په مطبوعاتوکی دمنعکس شوواراوو اونظریاتومثل اونه منل یائی دصواب اوخطاء په هکله وروستی پریکړه ددرنولوستونکوکاردی اوهم هغوی ته ئی پریږدم .

ښائی زیاتولوستونکو دا احساس کری وی چی دجهادی مطبوعاتوسرلیکر "شهادت" په وروستوګلونواوپه خاص ډول دنجیب له راتسکوېدووروسته ځپله غیرلاپسی پرانستی اوهرډول انتقاد ، اعتراض اوپیشنهاد ته ئی پخپله سینه کی ځای ورکری اوتقریبا دافغان ولس داکثریت ترجمانی ئی کری اوله همدی امله ئی دا افتخارهم ګټلی چی لوستونکی دی ئی د لاس ته راوړلو لپاره هڅه وکری ، په پیسودی یی واخلی اوبیادی ئی په دوکان ، دفتراوکورکی پوشان ولولی . خوددی ترڅنګ له دی واقعیت نه هم انکارنشوکولی چی شهادت دحزب اسلامی نشراتی ارګان دی اودآزادی نشراتی پالیسی معنی بایدهیڅکله دانه وی چی "شهادت" دی دحزب اسلامی دثابتو اواصولی دریځونو پرخلاف ، هغه افکار نشر کړی چی حزب اسلامی ئی په ټکولولا ستری نه بربښی .

چی خبره رانه اوږده نشی نوبیرته دښاغلی میوند دمضمون دری ټکوله راځم اولومړنی هغه تری رااخلم چی له مرګ نه وروسته پخپل وطن کی دامان الله خان دښخیدوپه هکله دی . میوند صیب لیکی " امان الله خان مرحوم په ژوند اوپادشاهی کی له ځپل هیوادنه شړل ومثل خوقبرئی دځپل وطن خوښ و ، هغه که په ژوند له ځپل وطن نه بیل شو په مرګ له ځپلی خاورڅاسره وصل شو " .

